# د خوشحال پۀ قصیدو کښې تنقیدي شعور

# Crictical ideas In khushal Khan Khattak Khattak Qasidas

Usman Ali[1]

**ABSTRACT:**

*This research paper explores the presence of critical consciousness in the qasidas of Khushal Khan Khattak. It argues that Khushal Khan Khattak was not only a major classical Pashto poet but also an intellectual voice who reflected critically on social, moral, political, and human issues through his poetry. The study briefly traces the concept and development of literary criticism and highlights its early manifestations in Pashto literature. It further demonstrates that various forms of criticism—such as theoretical, practical, comparative, psychological, aesthetic, structural, moral, and social—are evident in Khushal Khan Khattak's poetic works. His qasidas thus serve not only as artistic expressions but also as instruments of awareness, reform, and intellectual guidance for society.*

**Keywords:** Khushal Khan Khattak, Qasidas, Critical Consciousness, Literary Criticism, Pashto Poetry, Moral Criticism, Structural Criticism Aesthetic Criticism, Psychological Criticism, Comparative Criticism, Social Criticism.

---

دا تحقیقي مقاله د خوشحال خان خټک په قصیدو کښې د تنقیدي شعور مطالعه کوي. پۀ دې کښې دا څرګندېږي چې خوشحال خان خټک د یو ښۀ شاعر ترڅنګ یو فکري او تنقیدي شخصیت هم و چې د معاشرې اخلاقو، سیاست او انساني کړو وړو پۀ اړه یې وسیع فکر وړاندې کړے دے. پۀ دې څېړنه کښې د ادبي تنقید پېژندنه او پس منظر هم په لنډ ډول بیان شوے دے او بیا د پښتو ادب پۀ تاریخ کښې د هغې پرمختګ ته اشاره شوې ده .

دا رنګ د تنقید بېلابېلې څانګې لکه نظریاتي، عملي، تقابلي، جمالیاتي، ساختیاتي، نفسیاتي او اجتماعي تنقید د خوشحال خان خټک پۀ شاعرۍ کښې څرګند شوي دي. پۀ نتیجه کښې وئیلے کېدے شي چې د هغه قصیدې یواځې هنري نۀ بلکې د اصلاحي او سماجي شعور پېغام هم لري.

د هغه پۀ قصائدو کښې تنقیدي بصیرت ډېر روښانه ښکاري . هغه د یو شاعر ترڅنګ د فکر او معیار ټاکونکے هم دے . د هغه پۀ کلام کښې د ژوند، اخلاقو، شخړو او د معاشرې د حالاتو پۀ اړه وسیع نظر وړاندې شوے دے او چرته چرته یې د خپل وخت د خلقو خامۍ هم بیان کړي دي . د هغه پۀ شعر کښې د ښۀ او بد، رښتیا او دروغ او د لوړ او ټیټ معیار فرق واضح دے چې دا د عملي تنقید شکل دے . خوشحال خان پۀ خپل کلام کښې د شعر د ښکلا ترڅنګ د معني، فکر او پېغام اهمیت هم څرګندوي او هم دا د هغه د تنقیدي بصیرت لوےثبوت دے .

د هغه پۀ شاعرۍ کښې د تنقیدي شعور د تشریح کولو مخکښې د تنقید پېژندګلو ضروري دي .

تنقید یا انتقاد د عربي ژبې ټکے دے چې د "نقد" مادې نه اخذ شوے دے او بنیادي معني یې د ښۀ او بد تمیز پېژندل او د یو د څیز د قدر و قیمت اندازه ټاکل دي . پۀ انګرېزي کښې ورته **Criticism** وایي او پۀ یوناني کښې **Krinein** چې معني یې فیصله کول یا تشخیص کول دي .

---

[1] Mphil Scholar Pashto Department University of Peshawar
Lecturer, Pashto Department Post Graduate college Swabi college, ua769999@gmail - com

پهٔ ادبي اصطلاح کښې تنقید د یوې ادبي فن پارې د ښو او کمزورو اړخونو جاج اخستل دي . د وسیع قالب پهٔ معني کښې تنقید یو فن دے چې ځانګړي اصول لري او هم د دغه اصولو پهٔ رڼا کښې د ادب تجزیه کیږي . پهٔ دې لړ کښې عبدالکافي ادیب لیکي:

"تنقید یا انتقاد د عربي ژبې ټکے دے و نقد یې ماده ده . د دې ټکي بنیادی معني د کره کوټه معلومول ده . پهٔ انګریزي ژبه کښې د دی لپاره د (CRITICISM) ټکے راغلے دے او پهٔ یوناني ژبه کښې د دې لپاره (KRINEIN) ټکے استعمال شوې دے چې مطلب یې دے To JUDGE OR TO DISCERN پهٔ محدود و معنو کښې د تنقید مطلب دے د ادب پارې د خوبو او کمزورو مطالعه پهٔ وسیع معني کښې پهٔ دې کښې د تنقید اصول ټاکل او دې اصولو لره پهٔ تنقید کښې د استعمال پهٔ توګه شامل دي ."(i)

د دې ترڅنګ پښتو ادب پوهانوکښې سحر یوسفزے، عبدالکافي ادیب ، سید رسول رسا او داسې نورو نقادانو د تنقید معني کره کتنه یاده کړې ده . رحمت بي بي اچکزی پهٔ پښتو ژبه کښې د تنقید دا ډول ذکر کړې ده:

"تنقید (CRITICISM) (ع) مونث) جاج اخستل پښتو کښې تنقید دپاره جاج ټکے استعمالیږي . د جاج معنی ده د یو څیز کتنه ، څېړنه او د هغې ښهٔ او بد ، کره او کوټه پرې معلومول پهٔ انګرېزی کښې ورته CRITICISM وئیلے شي . معني یې ده عدل و انصاف پهٔ اصل کښې دا ټکے د یونانی ژبې نه اخستے شوې دے چې معنی ئې ده فیصله کول - CRITICISM د عېب لټولو نه واخله تر د ادب پارې تحلیل تشریح، تفسیر، درجه بندی او درجه شناسی پورې لاس وهنه کوي - Estimate غونډي لفظونه ورسره غاړه پهٔ Appreciation, Eavluation, Judgement, Assessment غاره یون کوي (ii)".

تر دې دمه تنقید د پوهانو پهٔ نظر یو مهم ادبي فن دے . د اطالوي دایرة المعارف پهٔ حواله د عبدالکافي ادیب لیکي:

"تنقید د هغې عمل یا ذهني حرکت نوم دے د څهٔ پهٔ برکت چې د یو څیز یا ادب پارې د خصوصیات امتیاز وشي ."(iii)

یعنې تنقید یو داسې عمل دے چې د یوې فنپارې د خصوصیاتو څېړنه پکښې کیږي . عبدالکافي ادیب د ایډ منډ کوس پهٔ حواله لیکي :

"د ایډ منډ کوس پهٔ خیال دے چې دیوې جمال پارې (ادبی ، فنی) د خصوصیاتو او قیمت باره کښې د محاکمې کولو یا فیصلې کولو فن ته تنقید وئیلي شي ."(iv)

دT. S. Eliot د نظر تر مخه تنقید یواځې د شعر ستاینه یا رََد نهٔ دے، بلکې د فکر یوه بنیادي شعبه ده . هغه وایي:

"تنقید د فکر هغه شعبه ده چې یا خو ددې خبرې معلومات کول دي چې شاعري څهٔ ده ، ددې فائدې څهٔ دي ، دا د کوم قسم خواهشات تسکین کوي ، یا شاعر شاعري ولې کوي او خلق یې د څهٔ دپاره مطالعه کوي ."(v)

تنقید یواځې نقد یا نیوکه نهٔ ده بلکې دا یو فکري او عملي رویه ده . د اردو مضمون نګار شهباز بیاباني د ټي ایس ایلیټ قول نقل کوي . هغه لیکي:"تنقید هماری زندگی کے لئےاتنی ہی ناگزیر ہے جتنی سانس ."(vi) . .

یعنې تنقید د انسان د ژوند دپاره دومره مهم دے لکه څنګه چې ساه د وجود دپاره ضروري ده .

کله چې شاعر تخلیق کوي نو د شعر لیکلو پهٔ وخت کښې پهٔ شعوري یا غېر شعوري ډول د تنقید لهٔ مرحلې سره مخ وي . هغه خپل کلام بیا بیا ګوري، سموي او ښهٔ کوي . دا چاڼول، سنجول او اصلاح کول د عملي او ادبي تنقید یوه څرګنده نمونه ده .

ډاکټر همایون هما د تنقید د مقصدیت پهٔ حواله خپل خیال دا ډول پېش کوي:

"ادب د ژوند تشریح ده او تنقید هاغه پیمانه چې دا تشریحات پرې سنجولی شي ، ځکه نو کره کتنه او محاکمه د تنقید بنیادي مقصدونه ګرځي ." (vii)

د تنقید د ضرورت، اهمیت او مقصدونو پهٔ اړه ډاکټر عبادت بریلوي خپل خیال څهٔ دا ډول پېش کړے دے:

"بغیر تنقید کے صحیح قسم کا ادب ھی پیش نہیں کیا جاسکتا اگر تنقید نہ ھو تو ادب کا وجود باقی نہ رھے - کیونکہ اگر اسکی دیکھ بھال نہ کی جائے اور اس کے لئے اصول نہ بنائے جائیں تو آرٹ اور ادب کی بلند تخلیق نہیں ھو سکتی ."(viii)

پهٔ ادبي لحاظ شاعر د تخیل د ونې نه د تخلیق مېوه اخلي خو د دې مېوې اصلي مغز ته هغه وخت رسي کله چې د تنقید پهٔ چاقو سره ترې پوستکي غوځ کړي . ال احمد سرور پخپل کتاب کښې لیکي:

"تخلیقی جوھر تنقیدی شعور کی بغیر گمراہ ھوتا ھےاور تنقدی شعور بغیر تخلیقی استعداد کے بے جان رھتا ھے ." (ix)

د تنقيدي مکتبونو خبره هلته شروع کېږي چې يو شاعر خپل فن د ژوند د مختلفو اړخونو سره پېوست کړي، لکه اقتصادي حالت، اجتماعي ژوند، سياسي فکر او خپل داخلي تجربې او يا په خپل کلام کښې د دې معاشرې خامې يا خوبۍ بيان کړي ـ دا رنګ کله چې نقاد د يو شاعر د کلام خوبۍ او کمزورۍ په ګوته کوي نو هلته مختلف تنقيدي مکتبونه رامېنځته کېږي ـ سيد شبيه الحسن په دې لړ کښې ليکي:

"ہماری سماجی بصیرتیں روز بروز بڑھ رہی ہیں جن کے ساتھ فن کے تقاضے
تعداد اور معیار دونوں اعتبار سے بڑھ گئے ہیں یہ وسعت محض بیرونی پھیلاؤ یا سطحی
طول کی حیثیت نہیں رکھتی بلکہ نامیاتی خصوصیتوں کی وجہ سے تنقید کی جڑیں دور
دور تک پہنچ چکی ہیں ۔"(x)

ترڅو چې د تنقيد د تاريخي پس منظر خبره ده نو د تنقيد پس منظر د يوناني فلسفې نه شروع کېږي چرته چې سقراط، افلاطون او ارسطو د ازاد فکر رَده کېښوده ـ بيا د رومي دور فرمان د د دوئ د فکري ازادۍ لاره محدود نه کړې شوه او د علم او ادب وده مخ په وړاندې پاتې شوه ـ په مختلفو دورونو کښې د تنقيد مختلف قسمونه جوړ شول، لکه تاريخي تنقيد، سائنسي تنقيد او تاثراتي تنقيد ـ دا ټول د خپل وخت د فکري او سماجي اړخونو څرګندونه کوي ـ په عمومي ډول تنقيد د ادب هغه عقلي عمل دے چې د هر دور سره بدلېږي او پرمختګ کوي ـ

د تنقيد نظرياتي اړخ (Theoretical) د ادب د اصولو، معيارونو او فکري اړخونو د تشريح سره پېوست شوے دے ـ حال دا چې عملي اړخ (Practical) د اثارو په وسيع نظر کتنه جاج او تطبيقي مطالعې ولاړ وي ـ په مختلفو ادبي مکتبونو (Schools of Thought) لکه کلاسيک، رومانوي، حقيقت پسند او جديد تنقيد کښې دا دواړه اړخونه مختلف رنګونه اخلي ـ هم د دې فکري پرمختګ په رڼا کښې که د پښتو ادب تاريخ ته وګورو نو د تنقيد علامتونه د ډېر پخوا راسې پکښې څرګند دي ـ پروفېسر ډاکټر حنيف خليل په دې لړ کښې ليکي:

"دواړو اړخونو (Practical) او عملی (Theoritical ) د تنقيد په نظرياتی يا
نظری چې نظر اچوو او ورسره د تنقيد د ټولو مکتبونو (School of thoughts) هم
جائزه اخلو او بيا په پښتو کښې د تنقيد وړومبۍ نخښې لټوو نو د ډېر پخوا راسې په پښتو
کښې د تنقيد جرړې ليدلی شو ـ"(xi)

د پښتو ادب په ابتدايي دور کښې د تنقيد دا اړخونه يواځې د نظري بحث د لاندې نۀ راتلل، بلکې د ژبې د ذوق، بلاغت او فني احساس په عملي شکل هم څرګندېدل ـ دغه ابتدايي نخښې مونږ ته دا په ګوته کوي چې پښتنو پوهانو او شاعرانو د ادب د قدر، معيار او ښکلا په باب لوړ شعور لرلو ـ په دې سلسله کښې حنيف خليل دا ډول ګويا شوے دے:

"مونږ کۀ د پښتو ادب په تاريخی سفر غور وکړو نو د پټې خزانې د روايت تر مخه
مونږ ته پته لګي چې ابو محمد هاشم سرواني " دسالو وږمه په نوم يو کتاب ليکلے وه چې
پکښې يې د عربی د اشعارو د وضاحت او بلاغت په حقله خيال څرګند کړے وه ـ د ابو محمد
هاشم د زېږېدنې کال پټه خزانه کښې ۲۲۳ھ ليکلے شوے دے ـ د هغه کتاب دستياب نۀ
دے ځکه د هغه په تنقيدی شعور هم تبصره نۀ شی کيدلې البته دا پته ترې ضرور لګي چې
پښتنو ليکونکو د ډېر پخوا راسې د تنقيدی شعور نخښې پرېښې دي ـ"(xii)

د روښاني تحريک په شاعرۍ او نثري ادب کښې د تنقيد ابتدايي نخښې په واضحه توګه ليدلې کېږي، چرته چې د نظرياتي (Theoretical) او عملي (Practical) دواړو اړخونه په يو ځاے په شعوري توګه مخې ته راځي ـ په دې دور کښې بايزيد انصاري (پير روښان) او د هغه مريدانو د صوفيانه او فکري بحثونو ترڅنګ د شعر و فن، بلاغت او ادبي معيارونو په اړه هم څرګند نظرونه وړاندې کړي دي چې د پښتو د تنقيد د اولنو جرړو حيثيت لري ـ ارزاني خويشکي، مرزا خان انصاري او علي محمد مخلص په خپلو شاعرانه څرګندونو کښې نۀ يواځې د شعر د ښکلا، حقيقت او معني اهميت خبرې کړي، بلکې د لفظ او معني رشته، د خيال او حقيقت توازن او د شعري معيار موضوعات يې هم مطرح کړي دي چې دا ټول د مختلفو تنقيدي مکتبونو لکه جمالياتي، نفسياتي، ساختياتي او حقيقت پسند تنقيد سره سمون خوري ـ هم دې تسلسل کښې دولت لوانۍ بيا د تقابلي تنقيد (Comparative Criticism) بنياد ږدي او د شاعرانو ترمېنځ د معيار ټاکلو هڅه کوي، حال دا چې اخوند درويزه او د هغه مريدانو بيا د مسلکي او عقيدوي تنقيد د اړخه د روښاني فکر سخت مخالفت څرګندوي، که څۀ هم دا تنقيد زياتره د غندنې بشکل لري ـ په دې توګه د روښاني دور ادبي ميراث مونږ ته دا ثابتوي چې د پښتو تنقيد جرړې د ډېر پخوا نه موجودې وې او د مختلفو فکري مکتبونو ابتدايي شکلونه پکښې وار په وار وده موندلې ده ـ

د پښتو د تنقيد د ارتقا په دې سلسله کښې چې مونږ کوم پرمختګ وينو نو دا لړۍ ورو ورو لا پسې مضبوطېږي او د فکر نوې مرحلې ته داخلېږي ـ ګل اکبر خان ليکي:

"روښاني تحريک نه پس لوے نقاد هغه دے او د دوي نه پس د دوي د جانشينو
هم اهم کردار دے ، په نثري او منظوم دواړو اصنافو کښې خوشحال خان خټک د تنقيد
نمونې شته دے ـ هغوي د شعر تعريف د شاعرۍ قسمونه او د شعر په اهميت ښه رڼا اچولې
ده يعنې په نظري تنقيد يې هم ښه بحث کړے دے او په عملي تنقيد هم ـ"(xiii)

خوشحال خان خټک د یو ښهٔ شاعر ترځنګ د خپل وخت یو با شعوره نقاد دے چې پهٔ نظري او عملي دواړو اړخونو کښې یې د تنقید بنیادونه مستند کړي دي . د هغه پهٔ شعرونو کښې د هغهٔ ذاتي تجربه او عمل دواړه مخې ته راغلي دي چې د عملي تنقید(Practical Criticism)غوره نموني ګرځېدلي دي . لکه وائي:

زۀ پهٔ ژبه ګونګ وے شاعر نهٔ وے
تر دا هسې ګویایی ښهٔ ومه لال
طبیعت مې عطایي نهٔ د تحصیل دے
کهٔ خبر یم د املا پهٔ استعمال(xiv)

نظري تنقید (Theoretical Criticism) د تنقید هغه قسم دے چې پکښې د یوې منظومې یا غېر منظومې ادبي فن پارې د تعریف او اصولو خبره شوې وي . خوشحال خان خټک پهٔ یوه قصیده کښې د شعر د تعریف او اصولو معیارونه پهٔ ګوته کړي دي . لکه وائي:

شعر کار د هر فاسق د فاجر نه دے
نهٔ د هر یوه وړ سترګې د کنګال

پهٔ یو کلام یا یو ادبي فن پاره کښې چې د یوې ادبي فنپارې د عملي تجربې، د شاعر د شخصي احساساتو او د کلام د استعمال او تجزیه شي . عملي تنقید (Practical Criticism) بللے شي . پهٔ دې قسم تنقید کښې د نظري اصولو نه زیات د متن عملي شکل او د شاعر خپل تجرباتي بیان مهم وي . هغه پهٔ خپل کلام کښې د خپل فطري ذوق او تجربې لهٔ اړخه د شعر اثر او استعمال بیانوي . لکه وایي:

تقابلي تنقید (Comparative Criticism) د تنقید د تنقید هغه قسم دے چې پکښې یوه ادبي فنپار د نورو فنپارو، شاعرانو یا ژبو سره مقابل کیږي او د معیار، ښکلا او فني برترۍ اندازه پرې کیږي . خوشحال خان خټک پهٔ خپل کلام کښې ځان د نورو شاعرانو سره مقابل کوي او د پښتو او فارسي ترمېنځ د خپل مقام اظهار کوي . لکه وایي:

پهٔ فارسي ژبه کهٔ نور تر ما بهتر دي
پهٔ پښتو ژبه مې مهٔ غواړه مثال
دا رنګ بیا وائي:
بندوبست د پښتو شعر ما پیدا کړ
کښه شعر د پښتو وو، غیر سال(xv)

دلته خوشحال خان خپل شعري مقام د نورو سره پهٔ تقابل کښې ټاکي او دا د تقابلي تنقید ځرګنده نمونه ده .

د خوشحال پهٔ شاعرۍ کښې د نفسیاتي تنقید بځرې هم ځرګند شوي دي . نفسیاتي تنقید د تنقید هغه قسم دے چې پکښې د شاعر داخلي احساساتو، ذهني کیفیاتو، فطري ذوق او فکري تجربې مطالعه وړاندې کوي . پهٔ دې قسم تنقید کښې د شاعر د ذهن حرکت، جذبات او داخلي حوادث د کلام پهٔ ژبه بیان شوي وي .

سګمنډ فرائډ (Sigmund Freud)د نفسیاتي تنقید د نظرئې باني دے . هغه د دې پهٔ خپل کوټلي نظریات پیش کړي دي . همایون هما پخپل کتاب "د تحقیق فن" د سګمنډ فرائډ (Sigmund Freud) د نظریاتو یادونه داډول کوي:

"د نفسیاتي تنقید بنیادي نظریه د Sigmund Freud لهٔخوا وړاندې شوې ده . هغه دا زیاته کړه چې د انسان ظاهري عملونه یواځې شعوري نه وي، بلکې تر شا یې یو پټ لاشعور (Unconscious) هم کار کوي" -(xvi)

ډاکټر سلام سند یلوی د سګمنډ فرائډ نظریات دا ډول لیکي:

"اس طرح ائس برگ کا ایک چھوٹا ساحصه هم کو سطح آب پرتیر تا هوا نظر آتا هے مگر اس کا بہت بڑا حصه پانی کے اندر پوشیده رهتاهی اسی طرحانسان کی فطرت کا ایک معمولی جزواس کی شعوری حالت میں ظاهر هوتا هے مگر اس کے تحت الشعور میں زبردست کیفیات پوشیده رهتی ہیں اس لئے ایک نقاد کا فرض ہے کہ وه ادیب کی ظاهری کیفیات کا سہارا لیکر اسکی باطنی کیفیات تك پهنچنے کی کوشش کرے تب هي وه اسکی تخلیق کو بخوبی سمجھ سکتا هے ."(xvii)

خوشحال خان خټک هم پهٔ خپل کلام کښې د خپل فکري او ذهني حالت اظهار پهٔ ډېر ښهٔ ډول کړے دے چې دغه شعرونه د نفسیاتي تنقید نمائندګي کوي . لکه یوه قصیده کښې وایي:

هر مضمون ته چې د زړه توجه وکړم
طبیعت یې راکوي پهٔ استعمال
تفکر د شاعرۍ یې لړمون شین کا
د غلیم دې پهٔ نصیب شي دا اشغال(XVIII)

دلته د شاعر د فکر، داخلي دباو او فطري ذوق ځرګندونه شوې ده چې دا د نفسیاتي تنقید واضح مثال دے .

دغسې د خوشحال پهٔ قصیدوکښې جمالیاتي تنقید(Aesthetic Criticism) هم مخې ته راغلے دے .جمالیاتي تنقید د تنقید هغه قسم دے چې پکښې د ادبي فنپارې د ښکلا، حسن، تشبیهاتو او هنري ذوق تجزیه کیږي .

پهٔ دې تنقید کښې د کلام ظاهري ښکلا، لفظي انتخاب او د احساس لطافت ته اهمیت ورکړے کيږي . د خوشحال خان خټک کلام ته کهٔ وکتلے شي نو د هغه پهٔ شاعرۍ کښې د حسن، جمال او عشق ښکلي انځورونه وړاندې شوي دي . لکه وايي:

د یار مخ د لاله ګل سره نسبت کا
د لاله د یار لهٔ مخه څهٔ مثال
د معشوقي توري سترګي غمزه ګري
په غزل کا لکه سترګي د غزال(XIX)

دې شعرونو کښې د ښکلا، تشبیهاتو او هنري ذوق څرګند مثالونه وړاندې شوي دي چې دا د جمالیاتي تنقید غوره نمونه ده .

د خوشحال خټک پهٔ شاعرۍ کښې ساختیاتي یا فني تنقید هم وجود دے . دا قسم تنقید هغه قسم تنقید دے چې پکښې د ادبي فنپارې د ساخت، فني اصولو، وزن، بحر، تقطیع او ظاهري ترتیب جاج اخستلے کيږي . پهٔ دې قسم تنقید کښې د شعر د داخلي مضمون ترڅنګ د هغه فني جوړښت یا ساخت او قاعدې هم کتلے کيږي . د تنقید دا نظریه د جدید دور پیداوار دے . د همایون هما پهٔ قول " د دې دبستان اصول د لسانیاتو (ژبې) ځینې جدیدو نظریو باندې اړه لري" -(XX).

پهٔ دې نظریه کښې چې کوم څهٔ کتلے کيږي هغه پهٔ څلورو نکاتو ولاړ دي . همایون هما یې پهٔ خپل کتاب کښې دا ډول نقل کړي دي:

"(۱) د ادب پارې چې کوم ساخت دے هغه پهٔ خپل ځاے پوره دے کهٔ نه او د دې عناصرو خپلو کښې تر کومه حده هم اهنګ دي . (۲)ساخت کښې د قلب ماهیت صلاحیت شته کنه . (۳) او دا چې د ادب پارې تر کومې د ژبان و بیان تقاضې پوره کوي . (۴) د ساختیاتي تنقید پهٔ ذریعه د ژبې د شاعرانه او جمالیاتي استعمال اندازه لګولے شي" -(XXI).

د خوشحال خان خټک شعر و شاعرۍ ته کهٔ د تنقید پهٔ دوربین کښې وکتلے شي نو د هغه شاعري د هغهٔ د ادبي شعور د جمال هغه پرقبدونکي هنداره ده چې پکښې د پښتو شاعرۍ او نثري اثارو فني خوبو او خامو تنقیدي جاج اخستے شوے دے . دے پهٔ خپل کلام کښې د پښتو شاعرۍ د سینګار او خپل ادبي فن د اعتماد یادونه هم کوي خو ورسره دا حقیقت هم بیانوي چې پهٔ پښتو کښې د عروض او بحر منظم فني نظام لا پهٔ عملي توګه نهٔ دے جوړ شوے . لکه وائي:

پهٔ وزن پهٔ مضمون پهٔ نزاکت هم پهٔ تشبیه کښې
پښتو وئیل مې عین تر فارسي دي رسولي (XXII)

د خوشحال خان خټک د ساختیاتي (Structural) او اصولي تنقید پهٔ اړه هم د بصیرت سترګې رڼا وي . هغه د شعر معیار ټاکي او بیا یې پهٔ خپله شاعرۍ کښې عملي کوي او د نورو شعرونه هم د دې اصولو پهٔ رڼا کښې څېړي . لکه وائي:

نهٔ یې وزن، نهٔ تقطیع، نهٔ یې عروض وو
دوه مصرعه یې د خفیف بحر دوه طال (XXIII)

هغه پهٔ خپل کلام کښې د پښتو شعر د فني معیار او ساخت خبره هم پهٔ دې قصیده کښې پهٔ یو بل شعر کښې داسې کوي . لکه وایي:

هر مضمون ته چې د زړهٔ توجه وکړم
طبیعت یې راکوي پهٔ استعمال

دا شعر د نفسیاتي او عملي تنقید یوه ښه نمونه ده . د فکر او تجربې پکښې دواړه اړخونه شامل دي . شاعروایي زهٔ چې هر مضمون ته ښهٔ پام وکړم او د زړه پهٔ سترګو ورته وګورم نو زما مزاج او فطري ذوق راته د هغې د استعمال او عملي کولو لار راښايي . هم دې قصیده کښې بل شعر داسې وړاندې کوي:

درست دیوان مې لکه باغ د علم ګنج دے
پکښې هر رنګه ګلونه هر نهال (XXIV)

پهٔ دې شعر کښې هغه خپل دیوان د علم د باغ او خزانې سره تشبیه کوي او وايي چې پهٔ دې کښې هر رنګ ښکلي فکرونه او مضامین لکه ګلونه او نوي بوټي شته . دا تشبیه ښايي چې هغه د خپل کلام اهمیت پهٔ ګوته کوي او د خپل فن ښکلا پهٔ شعوري توګه بیانوي چې دا د جمالیاتي تنقید (Aesthetic Criticism) نخښه ده . وړاندې قصیده کښې وائي:

دا څهٔ شعر نهٔ دے چې خوشحال خټک بیان کړو
واړه لعل و در دي د بیان پهٔ تار تړلي(XXV)

د هغه دا شعر د هغه فن او د بیان ښکلا ته اشاره کوي . پهٔ دې کښې شاعر د خپل کلام اهمیت او هنري قوت ستايي او د خپل بیان د قیمتي لعلونو او دُرو سره تشبیه کوي چې دا د هغه د کلام د حسن او لطافت څرګندونه کوي . کهٔ د دې شعر تنقیدي نوعیت ته وکتلے شي نو دا پهٔ بنیادي توګه جمالیاتي تنقید دے ولې چې پکښې د کلام پهٔ ښکلا،

بیان او هنري جوړښت زور ورکړے شوے دےخو ورسره دا شعر تاثراتي رنګ هم لري ځکه چې شاعر خپل ذاتي احساس او تاثر هم وړاندې کوي او د خپل کلام تاثير بیانوي نو په نتیجه کښې مونږ دا وئیلے شو چې دا شعر په اصل کښې جمالیاتي تنقید دے خو د تاثراتي تنقید رنګ هم پکښې شامل دے ځکه چې د کلام په حسن او تاثیر په دواړو اړخونو پکښې خبرې شوې دي .

دغه شان په ادبي میدان کښې چې دوه فن پارې يو بل سره مقابل کړے شي نو تقابلي تنقید بللے شي . دا تنقید د ډیر پخوا نه په پښتو شعر و شاعرۍ کښې عام دے او د روایت شکل یې خپل کړے دے . د هغه په شاعرۍ کښې هم دا قسم تنقید مخې ته راغلے دے . د "مخزن" او ځینو نورو اثارو مثالونه یې وړاندې کړي دي او وايي چې که هر څۀ پکښې وکتلے شي نو فني اصول، لکه عروض او صحیح بحر پکښې په منظم ډول نۀ موندلے کیږي خو بل اړخ ته مرزا خان انصاري د کلام ستائنه هم کوي او د هغه د شاعرۍ د فني او هنري خانګړنو اعتراف کوي چې د دې نه داسي څرګندیږي خوشحال خان یواځې نیوکه نۀ کوي بلکې د پښتو شاعرۍ د ښو او بدو اړخونو ترمېنځ متوازن او منصفانه تنقیدي نظر وړاندې کوي چې په نتیجه کښې یې مونږ دا وئیلے شو چې د خوشحال په زمانه کښې پښتو ادب د ښکلا د سینګار زیورات لري خو د فني اصولو د اړخه د لا اصلاح او پرمختګ ضرورت لري . وړاندې شعرونه د فني تقابلي او اصلاحي تنقید غوره نموني دي . لکه وائي:

له چانه په پښتو کښې ما میزان لیدلے نۀ دے
مرزا په دا زبان کښې وئیل کړي دي تللي
مخزن مې د اخوند چې تمامي په نظر کپووت
په دۀ کښې نۀ عروض شته نۀ یې بحر ما موندلي(XXVI)

شاعر هغه شاعر وي چې د خپلې معاشرې، خپلې جغرافیې سره تړلے وي . د خپلې معاشرې دننه په هر اړخ ژور نظر ساتي څوک چې ښۀ وي د هغه خوبۍ بیانوي او څوک چې بد وي د اصلاح کولوپۀ تدبیر په هغه تنقید کوي تر څو معاشره اصلاح شي او مخ په وړاندې لاړه شي . دا نۀ چې په دربارونو کښې ناست وي او د بادارونو مدحې په پتاسو وائي . خوشحال هغه شاعر دے چې قصیده یې د درباونو نه راوپستي ده او د پښتون معاشرې مختلفو اړخونو ته یې پکښې ځاے ورکړے دے .

د خوشحال زمانه داسي زمانه وه چې کوم شاعران او ادیبان به درباري وو د هغوي به په معاشره کښې زیات دارو مدار او زیات احترام کېدو . سید افتخار حسېن د خوشحال د زمانې د درباري لیکوالانو حال دا ډول ګویا شوے دے:

"پخوا به چې کومو شاعرانو د باچانو او امیرانو مدحې او تعریفونه کول او لیکل هغوي به ښۀ مزو وو پینځۀ واړو ګوتې به یې پۀ غوړو کښې وې د مال او طاقت به هېڅ کمے نۀ وو . هرچا به یې قدر کولو . ځکه چې هغوي د باچانو، امیرانو او درباړونو خاص الخاص شاعران وو . کۀ د دې نه به د چا ډېره کوله نو هغه صرف یو بهادر او غېرتي شاعر کېدلے شو . خوشحال خان هم یو غېرتي او نر پښتون شاعر وو" -(XXVII)

خوشحال ختک د قصیدې لمن د مدحو نه خلاصه کړه او د پښتون مزاج په ختکه کښې یې واغړله . محمد نواز طائر د خوشحال د قصیده ګوئۍ تعریف دا ډول کوي:

"خوشحال بابا په پښتو شاعرۍ کښې د قصیدې یو داسي انداز قایم کړو چې پښتو او پښتونواله یې پکښې ژوندي کړل . د دې قصیدې انداز خو د شاهي درباړونو د هغې سرکوزۍ وو کوم چې فارسي قصیده ګو شاعرانو خپل کړے وو او نۀ دا تش پند و نصیحت وۀ . د خوشحال قصیده چې یقیناً د هغې ازاد ماحول ترجمانه ده په کوم کښې چې د پښتون شخصیت جوړېدو . د دې قصیدې معیار دومره لوړ او اوچت وو چې د خوشحال خان نه پس نۀ خو چا دغه معیار قائم وساتلے شو اوۀ نۀ چا په دغه میدان کښې تر ټولو لوے یون اوکړے شي . یو د خوشحال بابا مشر زوئ اشرف خان هجري دغه روایت تر څۀ حده وساتۀ خو سره د دې د شلمې صدۍ د وړومبۍ نیمې پورې په پښتو کښې د داسي قصیدې نموني ډېرې کمې موندے شي چې د څۀ دنیاوي ښېګړې یا فائدې په طمع لیکلے شوے وي . یا ترې د خوشامندې او دربار بوئې راځي" -(XXVIII)

د خوشحال په قصیده کښې د پښتونولۍ او اصلاحي رنګونه زیات غالب دي . لکه یوه قصیده کښې وائي:

کۀ مې شعر شاعرۍ څرګندولے
ما به ډېر کړے د خپل بادشاه صفت وو(XXIX)

یا بل کلام کښې وائي:

قصیدې لرم غزا لۀ هره بابه
په حکمت په نصیحت کښې مالامال"(XXX)

په دې اشعارو کښې په درباري شاعرنو نېغ په نېغه تنقید شوے دے چې دا د اصلاحي تنقید ژوندی نمونه ده .

د خوشحال په قصیدو کښې داسې اشعار هم موجود دي چې د فخریه او هجویه تنقیدونو څرګند مثالونه دي . په دې لړ ډاکټر افتخار حسین لیکي:

"د باچا او امیر د دربار مدح خو څۀ کوي . خوشحال خان چې څومره مدح او
هجوه د دوئ لیکلي ده . زما په خیال د بل چا یا څیز به یې نۀ وي کړې . د هجوې او
غندنې خو باقاعده دعوې کوي" -(XXXI)

خوشحال خان وایي کۀ زۀ د غندنې او تیوکو خبرې درته وکړم نو تر دې چې د فارسي ادب نامتو شاعر فردوسي هم په دې برخه کښې زما سیالي نه شي کولے . فردوسي یواځې څو بیتونه د ستاینې (مدحې) لرې خو زه د اورنګزیب د غندنې او نیوکې دپاره لکه یو دروند بار . ډېر شعرونه لرم . شعرونه څۀ په دې ډول دي:

" کۀ لۀ هجوې لۀ غندنې درته وایم
فردوسی مې په دا کار کښې نۀ دے سیال
فردوسی لرې څو بیته لۀ محموده
زۀ لرم د اورنګزیب د ذم جوال(XXXII)

دا شعر د هجوي تنقید (Satirical Criticism) ښۀ مثال دے ځکه خوشحال خان دلته د تعریف په ځاے د سختې نیوکې او غندنې ژبه خپلوي او یو سیاسي واکمن (اورنګزېب) باندې سخت تنقید کوي .

د خوشحال خټک ځینې شعرونه مونږ ته دا ښائي چې هغه د خپلې معاشرې سره ژوره رشته لرله . ولې د هغه شاعرۍ کښې د معاشرتي ماحول دخل بې کچه زیات مخې ته راځي . په دغه دخل کښې چې خوشحال خټک کومه رویه اختیار کړې ده په هغې کښې یې د پښتنو د غیبونو نه پرده اوچته کړې ده . لکه د پښتنو نفاق، بې ننګي، داخلي جنګونه، جهالت، ناپوهي غندل او پر ځاے د دې وحدت راښلل یې یو اصلاحي کام دے . دغسې سیاسي او سماجي شعور یې هم واضح دے . کۀ یو خو د اورنګزیب ستائنه کوي خو چې هرکله ترې مخ واړوي نو په مغلو یې سختې نیوکې کړي دي اولس ته یې د هغوي خامۍ په ګوته کړې دي . د دې ترڅنګ د معاشرې په خانانو، ملکانانو او تر دې چې په مذهبي دوکاندارانو او پیر پرستو یې هم د تنقیدونه کړي دي . لنده دا چې په معاشره کښې یې څۀ هم څۀ رنګ لیدلي دي هغه رنګ یې پرې نقشه راښکلې ده ځکه خو د خوشحال په قصیده کښې د عمراني تقید عنصر ډېر غالب دے .

پښتانۀ په تاریخ کښې په هره دوره کښې سرکشه پاتې شوي دي او دغه خپلې سرکشۍ بیا همیشه کم علمی ناپوهي او جهالت سره مخ کړي دي . دوي کښې لویه المیه دا ده چې په پردي مخ ورته څوک د خپلو څهره واچوي نو کۀ هغه ورته هر څۀ وائي نو پښتانۀ یې سم بلې خو کۀ یو پښتون بل پښتون ته خبره کوي نو په یو بل لاړې توکي . د مرغی لار یو بل ته نۀ پرېږدي . ځکه خوډېر پخوا خوشحال خان خټک پښتانۀ سماجي اخلاقي او عملي میدان ته رابللي دي، د دوي د اصلاح کولو هڅه یې کړې ده او دې ته یې لمسولي دي چې په خپل مینځ کښې د پوهي نه کار واخلي او د عقل په امسا د غلطو رسمونو نه خان بچ کړي . لکه وائي:

چې دانا نادان لا وژني بدتر
مګر نۀ دے دا ژوندون څۀ معتبر
چې مې فهم فکر اوکړو باور اوکړه
په دا خار کښې ګل لۀ خار دے برابر
مکافات د کوم ګناه د کوم شامت دے
چې ډېر د میر جمله شو درست تېر
پښتنو ښځه کۀ شته څۀ عقل پوهه
ایل باغي دې ځینې کاندي اوس خذر
مستجاب مهمند کۀ چرګه د مغل ده
زۀ خوشحال خټک خو باز یم ځاے مې غر(XXXIII)

دا شعر د سیاسي، اجتماعي او اخلاقي تنقید ښه مثال دی . پکښې شاعر د ژوند غلطو رویو، د انسانانو بې رحمی او د معاشرې خراب اخلاقي کېفیتونه بیانوي . "دانا او نادان" او د ګناه د مکافات ذکر د انساني اعمالو نتیجې ته اشاره کوي چې دا اخلاقي تنقید دی . د دې ترڅنګ د مغلو او پښتنو یادونه او د قومونو ترمېنځ حالت سیاسي او اجتماعي تنقید څرګندوي . په نتیجه کښې شاعر خپل خان د "باز" او مقابل لورې د کمزورۍ په صورت کښې وړاندې کوي چې دا هجوي رنګ هم لرې . بله قصیده کښې وائي:

هر احمق چې په دنیا خاوند د جاه شي
نور وتلے ځنے نۀ شي جاه ئې چاه شي
په وئیل د مرسلانو نه ګروهېږي
د فرعون او د نمرود غوندې ګمراه شي
د عاقل صحبت عاقل لره راحت دے
د جاهل سره یې ناسته په اکراه شي(XXXIV)

دا درې واړه شعرونه د مملکت او معاشرې د اصلاح د موضوع سره تړون لري . شاعر پکښې وايي چې کۀ یو ناپوهه انسان واک ته ورسيږي نو معاشره خرابوي، ځکه جاهل حاکم د تباهۍ سبب ګرځي . دغه رنګ د پيغمبرانو د وينا نه انکار کول انسان د نمرود او فرعون پۀ شان ګمراه کوي چې دا د غلطو لارو نتيجه ده . پۀ دريم شعر کښې د عاقل او جاهل کشمکش پۀ ګوته کوي او وايي چې د عاقل ملګرتيا سکون ورکوي خو د جاهل سره ناسته پاسته انسان مجبوره او تنګوي . پۀ دې ډول دا درې واړه شعرونه د عقل، سمې رهبرۍ او د ښې معاشرې د اصولو درس ورکوي . لکه پۀ یوه قصيده کښې وائي:

زمري توب بويه د تورو پۀ مېدان کښې
پۀ خالي مېدان هر يو ګيدړ زمرے دے
بند پۀ بند يې نظر کړه خوند يې اخله
د دانا د خلې کلام لکه ګنے دے (XXXV)
لږ عبادت اوکړي هغه نور پۀ ځان غره شي
هر چې ډېر طاعت کا هغه لا پۀ حېراني دے
درست تحصيل تمام کړه پۀ دا کله دانشمند يې
حرف ورلره بس دے چې عالمِ زباني دے (XXXVI)
نفس و ماته حق ناحق کا ناحق حق کا
تل د دۀ پۀ فرموده پورې ناچار يم(XXXVII)

دا شعرونه د اخلاقي، اجتماعي او فکري تنقيد څرګند مثالونه دي . خوشحال خټک پکښې د انسان د کردار، علم او عمل ژور جاج اخستے دے . هغه وايي چې اصلي بهادري پۀ عمل کښې ده، پۀ تشو دعوو کښې نۀ ده، ځکه پۀ خالي ميدان کښې هر ګيدړ ځان زمرے ګڼي . د دې ترڅنګ د دانا خبرې د قيمتي ګاڼو سره تشبيه کوي او د عقل او پوهې اهميت بيانوي . د ريا عبادت، ظاهري علم (عالمِ زباني) او نفس پرستۍ سخت غندنه کوي او ښايي چې داسې کړۀ وړۀ انسان د حقيقت نه لرې کوي . پۀ مجموعي توګه دا کلام د انسان د اصلاح، ريښتيني علم او اخلاقي سبق پېغام لري .

خوشحال خان خک د سزا او جزا تصويرر هم پېش کړے دے . دا جهان يې د بدلې ځاے ګرځولے دے . يعنې هر انسان چې کوم کار کوي د هغې مطابق به نتيجه مومي . کۀ څوک بدي کوي نو نتيجه به يې بده وي او کۀ څوک نيکي کوي نو نتيجه به يې نېکه وي . لکه وائي:

جهان ځاے د مکافات دے
بد به مومي چې بد کا(XXXVIII)

دا شعر د اخلاقي تنقيد غوره نمونه ده چې پکښې د انسان د عملونو نتيجي ته اشاره شوې ده او انسان د نيکۍ طرف ته هڅوي .

په توره او جنګ کښې سکندر هم ګټه نۀ ده کړې او څوک چې دغه جنګي توکے(توره) خپلوي او علم پوهې ته شا کوي نو هغوي هوښياران نۀ دي بلکې لوي احمقان دي . ځکه خو هغه پۀ خپل کلام کښې د پښتنو او مغلو ترمېنځ د خپل وخت سياسي او سماجي کېفيتونه بيانوي او پښتانه د فکر او شعور لور ته رابلي . هغه وائي چې پښتانه کۀ څۀ هم پۀ جګړه او توره کښې زورور دي خو کۀ پۀ د پوهې او شعور پۀ پوړو ودرېږي د پرمختګ بام ته به وخېژي اوو ډېر هوښيار او منظم ملت او قوم به ترې ساز شي . د دې سره سره دا هم ښايي چې د اولسونو او واکمنانو ترمېنځ ارابطې، د قدرت نظام او د زمانې سياسي حقيقتونه څرګند شوي دي .د پښتنو بې اتفاقي، نفاق او د کمې پوهې ستونزه هم غندي او دا ښائي چې دا ټول حالات د معاشرې د جمود سبب ګرځي . دغه رنګ د قبايلي ژوند تصوير وړاندې کوي لکه اپريدي، مومند، شينواري او يوسفزي چې پۀ مختلفو حالاتو نغښتي شوي دي او د جنګونو او مسائلو سره مخ دي . خوشحال خان د خپل وخت د دې کېفيتونز پۀ ليدلو سره د ناموس، عزت او ننګ اهميت بيانوي او وايي چې بې ننګي د انسان د زوال نخښه ده . هغه مرګ د بې‌عزته ژوند نه غوره ګڼي او ژوند د عزت سره غواړي . پۀ نتيجه کښې دا فکر وړاندې کوي چې دنيا فاني ده او حقيقي پاتې کېدونکے شے د انسان نيک نوم او ياد دے، لکه چې د خوشحال خټک ياد به مدام ژوندے وي . لکه وائي:

تر مغولو پښتانۀ پۀ توره ښۀ دي
که پۀ پوهه پښتانه وے څۀ هوښيار
اولسونه چې سند وبله و کا
بادشاهان ورته سجود کاندي اختيار
کۀ نفاق کۀ اتفاق کۀ جهل پوهه
د هر چا د خداے پۀ لاس ده هره چار
اپريدي مومند، شينواري ګوره څۀ کا
د مغلو لښکر پروت پۀ ننګرهار
زۀ تنها پکښې پۀ غم د نام و ننګ يم

یوسفزیه فراغت پهٔ کښت و کار
اوس چې هسې بې ننګي بې ناموسي کا
عاقبت به ورښکاره شي خپله چار
مرګ زما پهٔ پوهه ښهٔ تر دا ژوندون دے
د عزت سره چې نهٔ وي زيست روزګار
همېشه به پهٔ جهان کښې ژوندون نهٔ وي
د خوشال خټک به پاتې شي يادګار(XXXIX)

دا قصيده د سياسي، اجتماعي او اخلاقي تنقيد يو ژوندے او واضحه مثال دے چې پکښې د معاشرې د اصلاح او د شعور وده اصلي مقصد دے .

پهٔ پورته قصيده کښې د انسان د باطني عظمت، شخصي وقار او فکري خپلواکۍ تصور وړاندې کوي . پهٔ دې کلام کښې اصلي موضوع د ظاهري شان و شوکت پهٔ مقابل کښې د باطني شتمنۍ بيان دے .،شاعر خان داسې انسان معرفي کوي چې نهٔ تخت لري، نهٔ پوځ خو بيا هم خان د معنوي دولت او علم خاوند بولي . دا د هغه د فکري تنقيد مهم اړخ دى چې پکښې د ظاهري اقتدار پر ځاے باطني قوت ته اهميت ورکولے کيږي . شاعر د دې خبرې پهٔ وساطت دا فکر وړاندې کوي چې حقيقي عظمت پهٔ مال، منصب او طاقت کښې نهٔ دے بلکې پهٔ علم، هنر، حوصلې او کردار کښې دے . دغه پهٔ دې قصيده کښې اخلاقي او نفسياتي تنقيد هم ښکاري، ځکه شاعر د طالع، حالاتو او ظاهري انقلابونو نه ځان بې نيازه ثابتوي او د خپل شخصيت مرکز فکر او شعور ګرځوي . پهٔ سماجي لحاظ دغه کلام د هغه وخت د طبقاتي تفاخر پر ضد يو فکري احتجاج هم دے، چرته چې بادشاهت، مال او نسب ته اهميت ورکولے کېده خو خوشحال خان د انسان د ذاتي قدر او معنوي کمال خبرې کوي . دغه قصيده د ځان پېژندنې او فکري لوړوالي ژوندے مثال دے . شعرونه يې دا ډول دي:

پهٔ درون کښې مې پراتهٔ دي ډېر ګنجونه
پهٔ معنی کښې لکه کان د سيم و زر يم
د طالع پهٔ سود او زيان مې نظر نشته
سر ترپايه درست وجود واړه هنر يم
وباطن وته مې ګوره کهٔ دانا ئې
پهٔ ظاهر صورت کهٔ هر څو محقر يم
څوک مې پرې مهٔ وزه د قهر تر کمرو
کهٔ پهٔ حکم پهٔ سکون لکه تور غر يم
نهٔ دا يو غيب زما نهٔ ډېر هنره
چې بهرام زما پسر زهٔ ئې پدر يم
زيست روزګار مې د دې خلقه سره نهٔ شي
زهٔ خوشحال لهٔ واړه خلقه مرور يم(XL)

دا قصيده د موضوعي، اخلاقي، نفسياتي او سماجي تنقيدي عملونو غوره مجموعه ده چې پکښې د انسان باطني عظمت تر ظاهري معيارونو مقام پهٔ ګوته شوے دے .

خوشحال خټک د خپل شعر د اهميت دفاع کوي او وايي چې شعر د حکمت، معرفت او احساساتو د څرګندولو ذريعه ده خو دا کار هر څوک نهٔ شي کولے ولې دا ډېر ګران کار دے او وائي شاعري د هر سړي د وس کار هم نهٔ دے خو هغو کسانو ته دا ګرانه اسانه ده چې احساس لري، مينه کوي او د فکر خاوندان دي . لکه وائي:

زهٔ د شعر پهٔ کار هيڅ نه يم خوشال
ولې خداے مې کړو پر غاړه دا مقال
نهٔ پهٔ فکر، نهٔ پهٔ ذکر رابرسېر شي
ناګهان لکه اوره د پشکال
رنګ وفا د شعر هيڅ سره ساز نهٔ دي
لکه سپی راپسي ګرځي پهٔ دنبال
کهٔ د شعر وئيل هر څو د صفت وي
بيا به شعر کښې پيدا شي انفعال
دا خبره بده نه ده، چا وئيلې
پهٔ تحقيق چې شعر حيض دے د رجال
پهٔ جهان تر شاعريه بد څهٔ نشته
خداے اخته مکړه سړے پهٔ دا جنجال
تفکر د شاعرۍ يې لړمون شين کا
د غليم دې پهٔ نصيب شي دا اشغال

يو يي زړه لۀ واړه خلقو نه جدا شي
بل اخته وي د خپل فکر پۀ نکال
فلاکت د شاعرئ يي سره مل وي
کۀ شاعر سرړے لري جاه او جلال
شعر کار د هر فاسق د فاجر نۀ دے
نۀ د هر يوه وړ سترګي د کنګال

دا خو د دې قصيدې پۀ برخه کښې د نفساتي تنقيد رنګونه وو چې وړاندې شو د دې نه پس د جمالياتي تنقيد سره تړلي شعرونه مخې ته راځي چې شعر د حسن، طبيعت او عشق د تصوير جوړولو ذريعه ګرځي لکه د لاله ګل، سبزه ونې، غزال سترګي او د معشوق قد . د دې ترڅنګ کۀ وکتلے شي نو خوشحال ختک د شعر د تخليقي قوت، صنعت، عروض او فني جوړښت ذکر کوي او دا ښايي چې شعر يو منظم او فني هنر هم دے . لکه يوه قصيده کښې وائي:

يار مخ د لاله ګل سره نسبت کا
د لاله د يار لۀ مخه څۀ مثال
د هوسيي د نافې ويني نابودې
برابرې کا د يار لۀ خط اؤ خال
د يار قد لۀ سبز وني سره سم کا
سبز ونه ده پۀ باغ کښې نونهال
د معشوقې توري سترګي غمزه ګرې
پۀ غزل کا لکه سترګي د غزال
پۀ هر بيت يي هسې شولې وي چې پاځي
لکه زيږي پۀ ډېر درد سره اطفال
د شاعر وئيل اوبو سره نسبت کړه
ښورې، تلخې اوبه يا خوږې زلال
ګلستان زما د نظم شګفته شو
پرې وهي شيدا بلبله پر او بال
ګلدستې يي لوږ پۀ لوږ، پۀ ملک خورې شوې
تر کابله، تر کشميره، تر بنګال
درست ديوان مي لکه باغ د علم ګنج دے
پکښې هر رنګه ګلونه، هر نهال
پۀ غزل، پۀ رباعي مي زړه مئين دے
چې مداح يم، د دلبرو د جمال(XLI)

هغه پۀ دې قصيده کښې د شعر، شاعرئ او شاعر د داخلي حالت يو ژور تنقيدي تصوير وړاندې کوي . هغه د کلام پۀ وړومبني شعر کښې د خپلې د بېوسئ او فطري مجبورو يادونه کوي چې د شعر کار ورته اسان نۀ ښکاري او دا الهامي عمل دے چې ناڅاپه لکه د پشکال باران راځي . دلته د نفسياتي تنقيد اړخ څرګنديږي څکه شاعر شعر يو ذهني دباؤ، اضطراب او فکري بېقرارئ سره مخ دے .

وروستو هغه وايي چې شاعر اکثر د نورو عانو خلقو نه بدل وي او د خپلو سوچونو پۀ دنيا کښې ورک او غرق وي او همېشه يواځې پاتې کيږي .

دا کلام پۀ مجموعي توګه د شعر د داخلي کېفيت، نفسياتي دباؤ جمالياتي ښکلا او فني جوړښت مختلف تنقيدي اړخونو څرګندونه کوي او د شاعرئ حقيقت پۀ هسکه غږئ بيانوي .

خوشحال ختک د تنقيدي شعور، فخري اسلوب او ادبي خوداګاهئ يوه پوره او منظمه څېره ده . هغه پۀ څېنو قصيدو کښې خپل ادبي مقام د فخر پۀ انداز کښې بيانوي خو دا فخر يواځې ځان ستاينه نۀ ده بلکې د تنقيد يو شعوري شکل هم لري . خوشحال ختک دعوه کوي چې هغه د پښتو شعر مقام لوړ کړے دے او د خبرو پۀ مېدان کښې يي داسي برلاسے موندلے دے داسي ښکاري لکه چې يو سلطنت يي فتح کړے وي . دا د هغه د ادبي خوداعتمادئ تر څنګ د پښتو ژبې د اهميت دفاع هم ده . لکه وائي:

په پښتو شعر چې ما علم بلند کړ
د خبرو ملک مي فتح پۀ سمند کړ
مدعي د توري شپې اوروړکي وو
د سهيل غوندې مي ځان باندې څرګند کړ(XLII)

دا د ځان ستائنه نۀ ده بلکې د ژبې اهميت پۀ ګوته کوي چې دا عملي تنقيد غوره نمونه ده . د دې ترڅنګ د خوشحال پۀ قصيدو کښې د تقابلي تنقيد بڅرې هم پۀ خرارو موجود دي . لکه وائي:

يو پهٔ حال او پهٔ ماضي کښې هسې نه وو
چې ښکاره يې د خبرو راته خوند کړ
د مرزا ديوان مې وماندہ پهٔ ګوډي
مسخره مې ارزاني، خوېشکي، زمند کړ
که دولت وو، که واصل وو، که دا نور وو
په خبرو مې د هر يو ريشخند کړ
قتلمي مې ورته سازې کړې د قندو
د اوربشو پهٔ ډوډيو چې چا شخوند کړ(XLIII)

په دې شعر کښې تقابلي تنقيد ډېر څرګند دے . هغه د ميرزا، ارزاني، خويشکي، زمند، دولت او واصل پهٔ شان شاعرانو يادونه کوي او خپل ځان تر هغوی لوړ ښايي . دا يواځې تقابل نهٔ دے بلکې د هغوی د ادبي خامو يو غېر بالواسطه تنقيد دے . د دې سره سره خوشحال خټک هجويه او طنزيه تنقيد هم کوي، لکه چې وايي "پهٔ خبرو مې د هر يوه ريشخند کړ" چې دا د طنزيه (هجويه) تنقيد څرګند مثال دے .

د دې تر څنګ پهٔ دې قصيده کښې فني او بلاغي تنقيد هم شته . شاعر د بحر، تقطيع، تشبيه، تمثيل او د کلام د عذوبت يادونه کوي چې دا ښايي هغه د شعر د فني جوړښت او هنري ښکلا پوره شعور لري . هغه خپل کلام الهامي او موزون بولي چې دا د شاعر د تخليقي شعور څرګندونه ده . لکه وائي:

هر کلام مې واردات دے يا الهام دے
چې موزون مې پهٔ تقطيع د بحر بند کړ
په تشبيه او پهٔ تمثيل، پهٔ نزاکت کې
عذوبت مې د خبرې چند در چند کړ
د بوستان ونې مې واړه پيوندي دي
حقيقت مې لهٔ مجاز سره پيوند کړ
چا زما مړوند ټينګ نه کړ پهٔ دا کار کښې
ما لهٔ هر سړي نه خلاص پهٔ زور مړوند کړ
هم دې زار دے، هم د ې سخ که فهم وکړې
زړه چې تا د شاعرۍ کار پسند کړ
سخ دې دا چې سخندان د زماني شوې
زار دې دا چې دې پهٔ فکرزړه نژند کړ(XLIV)

دې شعرونو کښې فني، بلاغي،اخلاقي، تخيلاتي او نفسياتي تنقيد شوے دے .

دغه رنګ وړاندې شعر کښې د ژبې او کلتوري شناخت تنقيد هم څرګند شوے دے . خوشحال خان وايي چې کهٔ څهٔ هم پهٔ فارسی ژبه کښې نور کسان مضبوط دي خو پهٔ پښتو کښې يې بې مثاله خدمت کړے دے . دلته هغه پښتو ژبه د لوړې ادبي ژبې پهٔ توګه مطرح کوي او خپل قوم ته د ژبني او لساني وياړ احساس ورکوي . لکه وائي:

په پارسی ژبه مې هم ژبه ګويا ده
په پښتو ژبه مې خلق بهرمند کړ
په تازه تازه مضمون د پښتو شعر
په معنا مې د شيراز او د خجند کړ(XLV)

دغه رنګ هغه د خپل کلام د منلو او نه منلو پهٔ اړه هم هغه د خپل کلام پهٔ اړه کوټلے او واضح نظر لري او مخالفين ناپوهه يا نفرت کوونکي ګڼي چې دا د هغه د فکر او اقدارو څرګندونه کوي . .

پهٔ مجموعي توګه دا کلام د نفسياتي، جمالياتي، فني او اخلاقي تنقيد يو ژوندے روح دے چې د شعر حقيقي او پېچيده اړخونه او ښکلا تول پهٔ يو ځاے پهٔ کوټلي انداز کښې بيانوي . لکه يوه قصيده کښې وائي:

پارسي شعر مې هم زده سليقه لرم د دواړو
پښتو شعر مې خوښ شو هرڅوک خپل ګڼي ښاغلي(XLVI)

دا شعر د تقابلي تنقيد (Comparative Criticism) مثال دے، ځکه چې خوشحال خان د پښتو او فارسي ادب مقابله هم کوي او د خپلې ژبې غوره والي او مينه هم څرګندوي .

د پورته شعرونو پهٔ رڼا کښې دا وئيلے شو چې خوشحال خټک خپل عمل د مادي او کتي دپاره نهٔ دے پکار کړې، بلکې د مينې د پاشلو او جذبې د پارولو دپاره يې پهٔ عمل کښې راوستے دے . دا د هغه د داخلي او نفسياتي شعور څرګند علامت دے چې شاعري يې د عشق او فکري رسالت يوه برخه ګرځولې ده .

د هغه پهٔ دې قصيدو کښې تنقيدي ښاخونه ډېر زور او يو بل سره اوړه پهٔ اوړه سر راټوکوي چې دا ترې پهٔ ډاګه کيږي چې خوشحال يواځې ذاتي تجربې نهٔ بيانوي بلکې يو وسيع فکري او اصلاحي مؤقف وړاندې کوي . لکه وائي:

په نا حق يې پهٔ زندان کړم يو څو کاله

خداے خبر دے کۀ پۀ خپل گناه زۀ شک یم
چې منصب مې د مغل خوړیو ملک ووم
چې منصب د مغلو نشته اوس ملک یم
ازادي ده پۀ ساده سپینه جامه کښې
خلاص لۀ غمه د زر بفت او د ملک یم
اور يې پورې پۀ منصب پۀ نوکرۍ شه
د مغلو تر فهم او نظر کک یم(XLVII)

پۀ مجموعي توګه دا وئیلے کېدئ شي چې د هغه قصیدې یواځې شعري او هنري تخلیق نۀ دے بلکې د فکري شعور، تنقیدي نظر او سماجي اصلاح یو مؤثر نظام هم وړاندې کوي۔ د هغه پۀ شاعرۍ کښې د ژوند بېلابېل اړخونه لکه اخلاق، سیاست، معاشره او انساني نفسیات پۀ ژوره توګه بیان شوي دي۔

هغه د خپلې زمانې د حالاتو نه یواځې خبر نۀ و، بلکې د هغو پۀ اړه یې واضح او جرأت منده تنقید هم کړے دے۔ د هغه کلام د پښتو ادب پۀ مېدان کښې د تنقیدي شعور بنیادي حېثیت لري او تر نن پورې د فکر، پوهې او اصلاح یو ژوندے مکمل تصویر ګڼلے کېږي۔

-----------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------
-----------

حوالې

I. اديب، عبدالکافي ، خورې پاڼې،ماسټر پرنټرز محله جنګی پېښور، دريم ايډيشن، ۱۹۹۰ء ، مخ ۱۲۹

II. رحمت بي بي اخکزی ـ د تنقيد اصول ـ لیکنی، دري مياشتنی پښتو مجله، 24 جون 2016،

Pashto AcademyAccessed 26 Apr 2026-

III. اديب، عبدالکافي ، خورې پاڼې،۱۹۹۰ء ، مخ ۱۲۹

IV. همدا اثر، مخ ۱۲۹

V. همدا اثر، مخ ۱۲۹

VI. https://naatkainaat -org/

VII. ڈاکٹر عبادت بريلوی، اردو تنقيد کا ارتقاء انجمن ترقی اردو کراچی اشاعت دوم ۱۹۶۱ ص ٦٦

VIII. محمد، همايون هما، ډاکټر، د تحقيق فن، اداره فکر و ادب مردان، ۲۰۰۴ء دوېم ايډيشن، مخ ۸٦

IX. ڈاکٹر عبادت بريلوی، اردو تنقيد کا ارتقاء انجمن ترقی اردو کراچی اشاعت دوم ۱۹٦۱ ص ٦٦

X. ال احمد سرور، تنقيد کياهے ، اردو اکيڈمی سندھ کراچی ص ۱۸۸

XI. سيد شبيه الحسن، ادبی تنقيد اور تحليل نفسی مشموله تنقيدی نظريات از احتشام حسين لاهور اکيڈمی لاهور ۱۹٦۸ ع ص ۱٦۷

XII. خليل، حنيف، تنقيد په پښتو ادب کښې، اعراب پرنټر نديم ټرېډ سنټر محله جنګی پېښور، اپريل ۲۰۱۸ء (دوېم چاپ)، مخ ۹۵

XIII. همدغه اثر، مخ ۹۵

XIV. خان، ګل اکبر، پوهه خلق، اعراب پرنټر محله جنګی پېښور، نومبر ۲۰۲۱ء، مخ ۱۸۲

XV. رسا، ميا سيد رسول، ارمغان خوشحال، يونيورسټي بک ايجنسي خيبر بازار پېښور، ۲۰۰۱ء، مخ ۸، ۹

XVI. د تحقيق فن، مخ ۹۲

XVII. همدا اثر، مخ ۹۲

XVIII. ارمغان خوشحال، مخ ۷،۹

XIX. همدا اثر، مخ ۱۷

XX. د تحقيق فن، مخ ۱۰۰

XXI. همدا اثر، مخ ۱۰۰

XXII. ارمغان خوشحال، مخ ۱۷

XXIII. همدا اثر، مخ۱۳

XXIV. همدا اثر، مخ ۹

XXV. همدا اثر، مخ ۹

XXVI. کليات خوشحال خان خټک، مرتبه دوست محمدخان کامل،اداره اشاعت سرحد پېښور، ۱۹٦۰ء، مخ ٦۲۳

XXVII. همدا اثر، مخ ٦۲۳

XXVIII. خوشحال ريويو، مخ ۱۹۳

XXIX. روهي ادب دوېم جلد۱۲۲ ـ۲۳۱۹۳

XXX. د خوشحال کليات،مخ ۵۹۷

XXXI. همدا اثر، مخ ۳۳۴، ۳۳۵

XXXII. خوشحال ريويو، مخ ۱۹۴

XXXIII. د خوشحال کليات ۵۴۰

XXXIV. رسا، ميا سيد رسول، ارمغان خوشحال، مخ ۲۰/۱۹

XXXV. همدا اثر، مخ ۳۵

XXXVI. همدا اثر، مخ۸۴

XXXVII. همدا اثر، مخ ۷۰

XXXVIII. همدا اثر، مخ ۴۸

XXXIX. همدا اثر، مخ ۱۹/۱۸

XL. همدا اثر، مخ ٦۸/٦۷

XLI. همدا اثر، مخ (٦ تا ۱۲)

XLII. همدا اثر، مخ ۵

XLIII. همدا اثر، مخ ۷/۶
XLIV. همدا اثر، مخ ۶/۵
XLV. همدا اثر، مخ/۶
XLVI. همدا اثر، مخ۹۹
XLVII. د خوشحال کلیات کلیات، ۵۶۳

## کتابیات


I. ادیب، عبدالکافي ـ خورېِ پاڼي، ماسټر پرنټرز، محله جنګی پېښور، درېم اېډیشن، ۱۹۹۰ء ـ
II. ڈاکٹر عبادت بریلوی، اردو تنقید کا ارتقاء انجمن ترقی اردو کراچی اشاعت دوم ۱۹٦۱ ء
III. حنیف، خلیل، تنقید په پښتو ادب کښې، اعراب پرنټر، ندیم ټرېډ سنټر، محله جنګی پېښور، اپرېل ۲۰۱۸ء (دوېم چاپ) ـ
IV. خان، ګل اکبر ـ پوهه خلق ـ اعراب پرنټر، محله جنګی پېښور، نومبر ۲۰۲۱ء ـ
V. خوشحال ریویو، خوشحال ریسرچ سېل، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، ۱۹۸۳ء ـ
VI. کلیات خوشحال خان خټک، مرتبه دوست محمدخان کامل،اداره اشاعت سرحد پېښور، ۱۹۶۰ء ـ
VII. طائر، محمد نواز، روهي ادب، پرېس نوم ، چاپ کال، دوېم جلد،
VIII. رسا، میا سید رسول ـ ارمغان خوشحال ـ یونیورسټي بک ایجنسي، خېبر بازار پېښور، ۲۰۰۱ء ـ
IX. سرور، ال احمد ـ تنقید کیاھے،اردو اکیڈمي سندھ، کراچي ـ
X. شبیه الحسن، سید ـ ادبی تنقید اور تحلیل نفسی ـ مشموله: تنقیدی نظریات، از احتشام حسین، لاهور اکیډمي، ۱۹۶۸ء ـ
XI. محمد، همایون هما، ډاکټر ـ د تحقیق فن ـ اداره فکر و ادب، مردان، ۲۰۰۴ء (دوېم اېډیشن) ـ


وېب پاڼې:

I. https://pashtoacademy ·com/
II. https://naatkainaat ·org/